


د مولانا داکتر محمد سعید « سعید افغانی » لیکنه
د نشر نیټه : 1 نوامبر 2026 میلادی

کاشکی!



ژوند او بیا زما ژوند او یا ز مونږ د خلکو ژوند ټول د مشکلات او لانجو ژوند دی .

زه کله د ځان سره وایم:
کاشکی نه وای پیدا، او که پیدا وای په هغه رمز پوه وای چه د ځان او دخلکو ژوند می د بی نظمیو، لانجو او مشکلاتو څخه خلاص کړی وی.
و ببنی که زه ووایم چه زه پوهیږم!
ځکه زه په خپله پدی پو هیږم چه زه نه پوهیږم!
اوکه زه پوره پوهیدلی په دی به هم پوهیدلی چه خلک څنګه پوه کړم.

زما آخري فیصله دا ده چی زه پوره نه پو هیږم! خو بیا هم لکه د اوبو وړی په شانی د سا ویستو د پاره هری خواته لاس او پښئ اچوم.
افسوس، افسوس!
او بیا افسوس! چه د خلکو د خدمت په منظور او د علیا منافعو د تامین په غرض څومره چه می هیله درلوده کامیاب او مؤفق نشوم.

سعید افغاني

د جوزا میاشت ، د ۱۳۶۴ هجري شمسي ـ کال

ترتیب کوونکی: برهان الدین « سعیدی »
د سعید افغاني د افکارو پلوشی د کتاب نه

www.said-afghani.org ـ بارګشت به صفحه اصلی